**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

# اې د پاکستان حکامو! د خلافت د ملاتړو ځورول د الله سبحانه و تعالی د قهر سبب کېږي، له دې کاره لاس واخلئ

د خلافت د داعي عبدالهادي له تښتولو نيږدې درې اونۍ تېرېږي؛ خو د روغتيا او ځای په اړه يې تر اوسه کورنۍ ته کوم معلومات نه دي ورکړل شوي. د روان کال د نومبر په ۲۰مه، د رژيم جنايتکارانو، چې د ځينو يې يونيفورم پر تن و او د ځينو نه، نيمه شپه د غلو په څېر په کراچۍ کې د عبدالهادي پر کور چاپه ووهله او نوموړی يې له خپل بوډا پلار سره – چې د زړه ناروغي لري- ونيو. په دې توګه رژيم له هغو مسلمانانو سره ډېر وحشيانه عمل کوي چې د قران او سنتو د حاکميت غوښتنه کوي؛ د کورنو حرمت ته فکر نه کوي او نه د ناروغ او بوډا خيال ساتي. خو که خبره د ابهينندان او ګلباشان وي، بيا نرمېږي او په اشغال شوي کشمير کې د مودي د وحشت پر وړاندې هم صبر او هم حوصله کوي.

د باجوه-عمران رژيم د نبوت پر منهج د خلافت د داعيانو په ځورولو سره خپله هغه ادعا تر پښو لاندې کوي، چې ګواکې هغه دولت به جوړوي چې وروستي پيغمبر محمد صلي الله عليه وسلم تاسيس کړی و. د دوی لپاره د هغه پرهېزګاره نسل بېلګه سمه نه ده، دغه رژيم د مشرکو قريشو پر لار ځي، هغوی هم مسلمانان يوازې د دې لپاره ځورول چې يوازې د الله سبحانه و تعالی عبادت ته يې دعوت کاوه. کټ مټ لکه قريش، دغه رژيم هم د اسلام د دښمنانو پر وړاندې نرم او زړه‌سوانده دی؛ خو د مومنانو پر وړاندې سخت‌زړی دی.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** پاکستاني حکامو عبدالهادي سره له دې ونيو، چې د نوي پاکستان (نيا پاکستان) پروژه له تاريخي ناکامۍ سره مخ شوه او د پاکستان لپاره د مخ پر وړاندې تګ يوازينۍ لار د اسلام حاکميت دی. دوی په هغه دولت کې چې د اسلام په نامه جوړ شوی، د خلافت له دعوتګرو او ملاتړو سره ظلم کوي او هغوی ځوروي؛ الله سبحانه و تعالی خبرداری ورکوي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ﴾**

[البروج: ۱۰]

***ژباړه:*** *چاچې پر مومنو نارينه‌وو او ښځو باندې ظلم او تېری وکړ او بيا يې توبه ونه ايستله، هرو مرو د هغوی لپاره د دوزخ عذاب او د هغوی لپاره د سوزېدو سزا ده.*

دغه ګنهکاره حکام د هغو مسلمانانو پر وړاندې بې رحمه دي چې د ما انزل الله د حاکمیت لپاره دعوت کوي او د شریعت پلي کول غواړي؛ رسول الله صلي الله علیه وسلم په یوه قدسي حدیث کې فرمایي:

**«إِنَّ اللَّهَ قَالَ مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ»**

(بخاري)

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي، زه د هغه چا پر وړاندې د جګړې اعلان کوم چې زما دوست (ولي) ځوروي.*

نو اې د اسلامي امت مخلصینو، په ځانګړې ډول ژورنالېستانو او د بشري حقونو فعالانو، ځانونه مو د حکامو په دغه ښکاره او ناوړه ګناه کې مه شریکوئ او د خلافت د دعوتګرو او ملاتړو د ځورنې د پای ته رسولو لپاره غږ اوچت کړئ!

## حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۱هـ ق، دربیع الثانی ۱۲مه

۲۰۱۹م کال، دوشنبه، د ډسمبر ۹مه

ګڼه: ۲۸/۱۴۴۱